AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۰۸

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یوسلاو ځلورمه برخه)

## عبدالعزیز توخي سلطان

د «دوديز طبيب» شاه دولا زوی. د امان الله خان پر مهال ئـې خپل کاري ژوند د ملکي مأمور په توګه پیل کړ. په ۱۹۲۹ز کال کې په کندهار کې وو. په ۱۹۳۰ز کال کې په بمبئـي د افغان قـنسلګرۍ سکرتر وو او په ۱۹۳۱ز کال کې په پاریس کې د افغان سفارت کې سکرتر وو. په ۱۹۳۶ز کال کې په جلال آباد کې د قـنسلـي اړیکو مدیر (مدیر خارجه) او په ۱۹۴۰ز کال کې په هرات کې وو. په ۱۹۴۵ز کال کې متقاعد سو او په ۱۹۸۵ز کال کې وفات سو. د ۱۹۷۰ز لسیزې په اوږدو کې ئـې د لمر په ژورنال کې د توخي په قومي نوم د دودونو او رواجونو په هکله لیکني کولې.

**سلطان احمد شیرزوی** : وګورئ : سلطان احمد شیر زوی

## سلطان علي خان

د سلطانِ حاکم/ حکیم [1] په نوم هم یادیږي. په هزاره جاتو کې زېږېدلی دئ. د هزاره ګانو یو مشر دئ. د حبیب الله کلکاني له منګولو څخه د هزاره جاتو د آزادولو په کمپاین کې ئـې برخه واخیستله. نادر شاه ورته څو دندې ورکړلې خو څو موده وروسته له نورو هزاره مشرانو سره زندان ته واچول سو. د صدر اعظم شاه محمود پر مهال له زندانه آزاد او پلخمري ته تبعید سو. په ۱۹۷۵ز کال کې په کابل کې وفات سو.

## میر منشي سلطان محمد

دی یو پنجابی وو چي د امیر عبدالرحمن په خدمت کې وو. له ۱۸۸۳ز کال راوروسته د امیر عبدالرحمن خان ژباړونکی او منشي وو. دهٔ ته د امیر د بایوګرافی یا ژوند لیک د لیکلو دنده سپارل سوې وه خو له هېـواده وتـښـتـېـد او لندن ته لاړ. د «افغانستان اساسي قانون او قوانین» [2] کتاب ئـې ولیکـهٔ. نومورِی په انګلستان کې مدافع وکیل سو. په انګلستان کې ئـې د امیر عبدالرحمن خان بایوګرافي [3] ولیکله.

[1] - Sultan-i-Hakim
[2] - The Constitution and Laws of Afghanistan
[3] -Autobiography of Amir Abdur Rahman


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

## ډاکټر محمد ظاهر سلطان

د لعل محمد زوی په ۱۹۴۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبيبيې او استقلال په ليسو کې او انګلستان کې ئې زده کړې کړې دي. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۶ز کال پورې ئې د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي کې تحصيل کړی دئ. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د فارماکولوژي د ديپارتمنت پوهنيار. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۲ز کال پورې ئې په پاريس کې تخصصي روزنه واخيستله. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د فارماکولوژي دديپارتمنت پوهندوی. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د افغانستان بانک مشاور ډاکټر چې وروسته د ټولو افغان بانکونو سلاکار ډاکټر سو. په ۱۹۸۰ز کال کې د ملګرو ملتونو په فيلو شيپ باندې بوداپست ته لاړ او شپږ مياشتې وروسته جرمني ته لاړ او دلته په بن کې د افغان مرکز رئيس دئ.

## خير محمد سلطاني

د ۱۹۷۸ز کال د مې په مياشت کې د ماليې مرستيال وزير.

## محمود سوما

د علم ګل زوی په ۱۹۳۲ز کال کې د پکتيا د خوست د متون په سيمې کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۵ز کال پورې د کابل پوهنتون ته تللی دئ. په ۱۹۶۰ز کال کې په بيروت کې له امريکايي پوهنتون څخه په ساينس کې د ليسانس په درجې فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۴ز کال کې ئې خپله ماستري او يو تخصصي ديپلوم د کولمبيا د پوهنتون د ښوونکو د روزني له پوهنځي څخه تر لاسه کړ. د کابل پوهنتون د ښووني او روزني او د ساينس د پوهنځي استاد. په ۱۹۷۸ز کال کې د لوړو زده کړو وزير چې د ۱۹۷۹ز کال تر پای پورې وزير وو. په ۱۹۸۰ز کال کې ونيول سو خو وروسته خوشي سو.

## ثـريـا

ډ غوايي له پاڅون وروسته، د افغان ښځو د ډيموکراتيک سازمان رئيسه. د انقلابي شوری غړې.

## ديپلوم انجنير احمد شاه سرخ آبي

د محي الدين زوی او د غلام محمد ميمنګي لمسی په ۱۹۳۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۹ز کال کې د غازي له ليسې څخه فارغ سوی دئ. خپله ماستري ئې په انجنيرۍ کې د مسکو له پوهنتون څخه تر لاسه کړې ده. په ۱۹۸۰ز کال کې د اوبو او برېښنا د وزارت د اوبو لګولو مرستيال وزير. په ۱۹۸۲ز کال کې د اوبولګولو وزير.

## مريم سرخابي

د مينګ باشي عبدالباقي لور ده، ډمينګ باشي عبدالباقي : د ميمنې قومي مشر وو، وروسته له دې چې امير عبدالرحمن خان په دې سيمې کې امن او آرامي ټينګه کړه، مينګ باشي عبدالباقي ئې اعدام کړ، مريم سرخابي ډ نامتو افغان انځورګر، غلام محمد ميمنګي خور ده. د ښو تحصيلاتو څښتنه ميرمن وه. د امير حبيب الله خان د سلطنت ۱۹۰۱-۱۹۱۹ز کال پورې، پر مهال د سلطنتي مانۍ د مېرمنو تدريسي ښوونکي وه. مريم سرخابي د امير امان الله خان پر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

مهال د ﴿مکتبِ مستورات﴾ په نوم د نجونو لپاره د نوي جوړ سوي ښوونځي د تأریخ ښوونکې سوه. د ۱۹۳۰ز لسیزې په اوږدو کې مریم سرخابي او لورګاني ئې اقبال، عایشه او طاهره په سلطنتي ماڼۍ کې د نجونو لپاره د خصوصي ښوونځي ښوونکې سوې. مریم سرخابي په میمنې کې د ﴿مکتبِ ستاره﴾ په نوم د نجونو د ښوونځي بنسټ ایښودونکې او مدیره سوه. نوموړې په ۱۹۶۳ز کال کې په کابل کې وفات سوه.

## میر جلال الدین طبیب

د میر محمد زوی په ۱۸۹۲ز کال کې د هرات په «اسفغان» [4] کې زېږېدلی دئ. په هرات کې ئې زده کړې کړي دي. همدا شان دودیز طبابت «یوناني طب» ئې زده کړی دئ. د څو مودې لپاره ئې په فخر المدارس کې تدریس وکړ. لیکوال او شاعر.

## ډاکټر عبدالحکیم طبیبي

﴿د شور بازار د دودیز طبیب﴾، طبیبي زوی په ۱۹۲۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۲ز کال کې د حبیبیې له لیسې څخه فارغ سو. په ۱۹۴۶ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو له پوهنځي څخه فارغ سو. په ۱۹۵۲ز کال کې ئې خپله ماستري د جیورج واشنګټن له پوهنتون څخه او دکتورا ئې په ۱۹۵۴ز کال کې له امیریکن پوهنتون څخه تر لاسه کړه. په ۱۹۴۶ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د نړئ وال ریاست کارمند. په ۱۹۴۸ز کال کې په واشنګټن ډي. سي. کې د افغان سفارت اتشه. په ۱۹۵۴ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د دریمې سیاسي څانګې مدیر او ورسره هم مهاله د باندنیو خدماتو د انستیتیوت رئیس. په ۱۹۶۱ز کال کې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د دایمي مأموریت لومړی سکرتر. په ۱۹۶۴ز کال کې د یوګوسلاویا سفیر. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د عدلیې وزیر او لوی څارنوال. په ۱۹۶۷ز کال کې د جاپان سفیر. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د هندوستان سفیر. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د آسیا د پرمختیایي بانک ګورنر. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د آسیا د پرمختیایي بانک د بورډ مرستیال رئیس. د ۱۹۴۹ او ۱۹۷۵ز کلونو تر منځ ئې د افغان پلاوي په توګه په ګڼ شمېر نړئ والو کنفرانسونو کې ګډون کړی دی. په ۱۹۷۹ز کال کې په ملګرو ملتونو کې د دایمي مأموریت د مرستیال په توګه وګومارل سو او د دسمبر په میاشت کې د شوروي د یرغل له کبله ئې په عام محضر کې د خپلې دندې د پرېښودلو اعلان وکړ. دننه په افغانستان او له هېواده دباندې ئې ګڼ شمېر مقالې او همدا شان ﴿په آزادئ مین ملت﴾ [5] په ګډون د یو شمېر کتابونو لیکوال. د ربښتین او ستور مډالونه ئې اخیستي دي؛ او په فیتو کې تاو د یوګوسلاویا بیرغ او د راختونکي لمر بیرغ ئې له جاپان څخه د ویاړ- نښنو په توګه تر لاسه کړي دي. د OSULA اجرائیوي غړی. په ژنوا کې د ﴿اسلامي اتحاد او پیوستون د مجلې﴾ عروة الوثقی محرر. مورنۍ ژبه ئې دري وه. مېرمن ئې په قوم بارکزۍ، نجیبه نومېږي چې دوه زامن او یوه لور لري.

[4] -Isfaghan
[5] -A Nation


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## میرزا محمد علي طائب

د میرزا سیف الدین زوی په ۱۸۷۲ز کال کي د مقر په «ناوۀ خورد» کي زېږېدلی دئ. د خپل پلار تر څار لاندې ئـې دودیزې زده کړې تر لاسه کړلي. دی یو اسلامي عالم، خطاط او شاعر وو.

## محمد طاهر طائب

د میرزا محمد علي طائب زوی په ۱۹۱۱ز کال کي د کابل په «دِۀ افغانانو» کي زېږېدلی دئ. دودیزې زده کړې ئـې له خپل پلاره چي ستر شاعر وو او له نورو علماوو څخه تر لاسه کړي دي. په ۱۹۳۰ز کال کي د مالیي په وزارت کي کاتب. د علي آباد د روغتون د کنترول مدیر او په ۱۹۴۹ز کال کي د مالیي د وزارت د پوروپو په ریاست کي مدیر. شاعر هم دئ.

## محمد طاهر طاهر

د محمد ابراهیم خلیل زوی په ۱۹۱۴ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. د استقلال او غازي په ښوونځیو کي او حربي اکاډیمی کي ئـې زده کړې کړي دي. حکومتي خدماتو کي په کار شامل سو. د پکتیا د ولایتي حکومتی د تحریراتو او اداري مدیر. شاعر.

نور بیا

## نظام الدین تهذیب

په ۱۹۴۴ز کال کي د دفتاني د قبیلي په یوې پښتـني کورنی کي زېږېدلی دئ. د۱۹۶۰ز لسیزې په...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلی رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ